مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۱۰/۱۳

# په وينو لړلي چادري

«ډېر درته منتظر سولو، دروازه مو در وټکوله، د موټر هارونه مو هم درته ووهل خو نن دي ډېر ناوخته کړ!»

دا خبري موټروان يوې ښځينه همکاري ته په تونده لهجه وکړې.

صالحه موټر ته ور پورته، خو دروازه يې لا سمه نه وه تړلي، چي موټر وان حرکت وکړ او له ځان سره وبنېدی ساعت ته نه ګوري، چي څه وخت دی؟

صالحي موټرچلوونکي ته د ځواب ويلو پرځای له نورو څلورو همکارانو سره، چي تردې مخکي په موټرکي ناستي وې په نيمه خوله روغبړ وکړ او غلي کښېنسته،

د صالحي څنګ ته ناستي بريښنا کرار وپوښتله « خير ږ نن ډېره وځنډېدې ؟»

دې سوړ اسويلی وکيښ « ته خبره يې، چي خاوند مي يونيم کال کيږي ګوزڼ وهلی دی او کوچنی لور مي هم سخته ناروغ ده له هغي سره توله شپه ويښه وم ، سهار چي مي لمونځ کوی لايي ژړل باور وکړه ساعت ته مي هيڅ پام نه دی سوی«.

لعل محمد، چي د صالحي خبري واوريدې په زړه کي يې ځان ملامت کړ « خوري ! بخښنه کوه، څه وکړم زه هم د بل مزدوران يم.

باور وکړه، دايوه هفته کيږي په کور کي ... ده لا خبره نه وه پوره کړې، چي يوبلي همکاري جميلي زړه راغونډ کړ « داڅو مياشتي کيږي، چي وايم نوې چادري به رانيسم، خو توله تنخوا د کور په کرايه او پوروڼو کي راڅخه مصرف سي، داخل مي تينګ نيت دی، چي ځان ته به نوې چادري او زوی ته به يوه جوړه بوټونه رانيسم.»

موټر پر سړک ګړندی روان دی او په موټر کي دننه بحث وار په وار توديږي، چي په دې وخت کي پر موټر د مرميو باران او د هنداړو شرينګی سو، چيغي سوې، زګيروی سو، د ګړندي موټر سرعت کم او د سړک پرغاړه ژور لښتي ته ورکوړ سو، د موټر له دريدو سره شپېړ زړونه هم ودريدل.

له موټر څخهويني راتوی سوې، ويني د لښتي له اوبو سره ګډي او اوبو د وينو رنګ واخيست، يوازي د تودو وينو بوی او توبنونه د موټر له ماتو هنداړو راوزي او په هواکي له سترګو فنا کيږي.

سړکونه بند او د پوليسو د موټرونو لوړو ږغونو سيمه پر سر واخيسته، تاڅه وليدل؟ قاتلان کومي خواته ولاړل؟ څو تنه وو؟ څنګه کالي يې اغوستي وو او ...؟

خلک په وچو شونډو يوازي دا دوی جملي تکراروي: «موږ په شي لا نه يو خبر، نه مو څوک ليدلي دي .»

۱۷ ــ ۱۲ ــ ۲۰۱۶
کندهاربنار، چوڼی



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په خير و لولئ